## په ساده ژبه CLB څه شی دی؟

CLB د زده‌کوونکو د لارښوونې مرکزی دی. CLB له هغو ماشومانو او ځوانانو سره مرسته کوي چې ښوونځي ته ځي.

هر ښوونځی له CLB سره کار کوي، خو CLB د ښوونځي برخه نه د. نو دا یو بېل سازمان دی.

د CLB لخوا مرسته تل **وړیا ده.**

## تاسو له CLB څه پوښتلی شئ؟

- ایا تاسو په ښوونځي کې د مرستې او پاملرنې په اړه کومه پوښتنه لرئ؟
- ایا د دې انتخابولو په برخه کې مرستې ته اړتیا لرئ چې څه مطالعه کړئ یا کوم کار غواړئ وروسته وکړئ؟
- ایا په ښوونځي کې ستونزې تجربه کوئ؟ ایا لوست او لیکل مو ډیر روان نه دی؟ ایا زده‌کړه سخته ده که ډیره اسانه؟ ایا تمرکز کولی درته سخت دي؟ ایا په دې اړه ډاډه نه يئ چې څنګه مو درسونه په سمه توګه مطالعه کړئ؟
- ایا په کور کې ستونزې لرئ؟ ایا ځورول کېږئ؟ ایا والدین مو طلاق اخلي؟ ایا په دې اړه ډاډه نه يئ چې څنګه مو له ملګرو سره چلند وکړئ؟ ایا ډیر فشار لرئ؟
- ایا ملګري نه لرئ؟ ایا له ځان سره د راحتۍ احساس نه کوئ؟ ایا د خپګان، غوسې، یوازیتوب او داسې نور احساس کوئ؟ ایا تاسو غواړئ په دې اړه وروسته خبرې وکړئ؟
- ایا د خپلې روغتیا په اړه کومې پوښتنې لرئ: ایا زه په سمه توګه وده کوم؟ ایا زه په ښه توګه لیدل او اورېدل کولی شم؟ څنګه سالم خواړه وخورم؟ د بلوغ په اړه څه؟ سګرټ څکول، الکول، لوبې او داسې نور. ایا دا سم دي؟ زه د دې په اړه څه کولی شم؟
- او داسې نور.

له CLB څه خپلې پوښتنې وکړئ!

ستاسو والدین او ښوونځی هم له CLB ځخه پوښتنه کولی شي.

## له CLB څه څنګه پوښتنه کولی شئ؟

- د خپل ښوونځي له لارې: له خپل ښوونځي څخه د CLB د اړیکې نیولو جزیاتو په اړه وپوښتئ.  یا يې له دې لارې غوښتنه وکړئ www.onderwijskiezer.be.
- په www.clbchat.be: تاسو کولی شئ په وړیا توګه له CLB سره خبرې وکړئ. کارکوونکي ستاسو د ښوونځي د CLB لپاره کار نه کوي. ستاسو والدین هم له CLB سره خبرې کولی شي.
- له دې لارې blinkers.clbonline.be که تاسو متوسطه ښوونځي ته ځئ: د خپلې زده‌کړې له شخصي ID سره ننوځئ. دا

Het CLB helpt. Vrij CLB Netwerk
OVSG De gemeente maakt school
GO! centra voor leerlingenbegeleiding SAMEN KANSEN CREËREN
PROVINCIAAL ONDERWIJS VLAANDEREN

مو له ښوونځي ترلاسه کولی شئ.  تاسو کولی شئ له دې لارې له خپل CLB سره اړیکه ونیسئ.
تاسو کولی شئ د بلینکرز (Blinkers) له لارې خپلې پوښتنې وکړئ یا د اپاینټمنټ غوښتنه وکړئ. تاسو همداراز کولی شئ هر ډول معلومات پیدا کړئ او پر فایل بیاکتنه وکړی شئ. ستاسو والدین دلته په Blinkers کې نوملیکنه وکړي .www.burgerprofiel.be

- دلته www.onderwijskiezer.be، تاسو کولی شئ په دې اړه معلومات پیدا کړئ چې کوم مضمون مطالعه کړئ؛ دغه راز د انتخاب زده‌کړه، انګېزه او د مطالعې لارې.

**CLB څه ډول کار کوي؟**

د CLB یو کارکوونکی به لومړی له تاسو یا ستاسو له والدینو سره خبرې وکړي. تاسو او ستاسو والدین تل کولی شئ یو کس له ځان سره CLB ته راوړئ. دا کېدای شي داسې کس وي چې باور پرې لرئ، لکه ښوونکی، ملګری، ستاسو ورور یا خور.

د CLB کارکوونکي:

- به تاسو ته غوږ ونیسي
- درته تشریح به کړي چې CLB څنګه کار کوي
- به له تاسو سره کار وکړي چې خپلو پوښتنو ته یو ځواب پیدا کړئ

CLB **بېلابېل کارکوونکي ګوماري:** روانپوهان، ښوونکي، ډاکټران، ټولنیز کارکوونکي، نرسان. دوی به یو له بل سره کار وکړي، په دې اړه به له یو بل سره خبرې وکړي چې څنګه کولی شي لا ښه مرسته درسره وکړي.

CLB به تاسو راوبولي چې په مشخصو وختونو کې حاضر شي. دې ته "د اړیکې نیولو سیستماتیکه شېبه" وایي. دا به ستاسو تر ښوونځي وړاندې دورې د لومړي کال او د متوسطه ښوونځي د شپږم کال ترمنځ پنځه ځله وشي. تر ښوونځي وړاندې دوره کې به مو والدین درسره وي. CLB به ستاسو پر وده او پرمختګ څارنه وکړي.
CLB به همداراز د وړیا واکسینو وړاندیز وکړي؛ د بېلګې په توګه ستاسو د لومړني ښوونځي په څلورم کال کې د شري، ډېډبغوني او روبېلا پر وړاندې واکسین. دا به لومړی درته تشریح کړي. تاسو یا ستاسو والدین به پرېکړه وکړی. تاسو به همداراز د پوښتنو کولو فرصت ولرئ.

هر څوک چې له CLB سره کار کوي، **مسلکي محرمیت** به لري. که تاسو په CLB کې چاته څه ووایئ، دا کس اجازه نه لري چې بل چا ته یې ووایي.

ځینې وخت به CLB ستاسو له والدینو، ستاسو ښوونځي او ټولنیزو کارکوونکو سره کار وکړي. بیا CLB لا ښه مرسته درسره کولی شي.

CLB به لومړی په دې اړه له تاسو سره بحث وکړي.

ایا تاسو په ریښتیا په خطر کې یئ؟ بیا CLB اړ نه دی چې د مسلکي محرمیت پابند وي. خو یو ځل بیا، د CLB کارکوونکي به لومړی په دې اړه له تاسو سره خبرې وکړي.

ایا تاسو د مسلکي محرمیت په اړه کومه پوښتنه لرئ؟ د CLB له یوه کارکوونکي وپوښتئ.